# د چمن د پښتو ادبي ټولنو تحقیقي جائزه

## The Study of Chaman's Literary Societies

عیسیٰ احمد خان اڅکزی*
ډاکټر عبدالرحمان کاکړ♦

**Abstract:**

In this article, the scholars have thoroughly studied the history of Pashto literary societies per se. Notwithstanding, in the historical perspective, it has also been ascertained in this research paper that the origin of Pashto literature was also begun from this fertile land of Southern Pashtoonkhwa; and then spread out to the rest part of Pashtoon-Afghan terrains gradually. This research study also pinpoints that the first ever foundation of Pashto literary society was laid down in 12th century. While, 'Bazmi Adab' the first literary society of Chaman was opened in 1952, to promote Pashto language and literature. In a nutshell, within this prolong period, when the first ever literary society was opened up in 12th century, the role of individual literary personas and literary societies are of paramount significance for the promotion of Pashto language and literature.

**Key words:** Chaman, Pashto Language, Literature, Literary Society.

پښتو ادب په پښتون افغان وطن کښي یوه لرغونې سابقه او تاریخچه لري. د پښتو ادب بنسټ هم له دې سُهېلي پښتونخوا څخه پیلېږي او بیا د تاریخي ارتقاء له لارې په ټول پښتون افغان وطن کښي خورېږي. دا ارتقائي یون د بېټ نیکه له مناجاتونو څخه بیا تر عصري دورې پورې دوام لري. په دې دومره اوږده دوره کښي د ځانګړي ادبي کار و زیار سره سره د پښتو ادبي ټولنو کردار د لمر په شان نمایان دی.

پښتو ادبي ټولنو د پښتو ژبې په پرمختګ کښي د ملا د تیر په شان رول لوبولی دی. دې ټولنو د علاقائي ادیبانو د روزنې د لارې و پښتو ادب ته معیاري ادب پېرزو کړی دی او وروسته له دې پېرزوئینې علاقائي ادیبانو د معیاري ادب له لارې نړیوال حیثیت موندلی دی.

د ادبي ټولنو له عامو ټولنو څخه توپیر دا وي چې دا ټولنې خالصتاً د ادب، تاریخ، کلتور او جغرافیې دپاره کار کوي. د دې دپاره له یوه څخه زیات څو کسان (نرینه، ښځینه) راټولېږي، د یوې ټولنې بنسټ ږدي او بیا وروسته دا ټول کسان په اجتماعي توګه د ادب، کلتور، تاریخ او جغرافیې دپاره کار کوي. یوه ادبي ټولنه د

---

* M.Phil Scholar, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta.
♦ Lecturer, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta.

خپلې ژبې، ادب، کلتور، تاریخ او جغرافیې په هکله د څېړنې، روزنې، د نقد، د شعر او پوهنغونډو د لارې دا زیار کاږي چې خپل قامي تشخص په تاریخي او ادبي حواله و نړۍ ته ښکاره کړي.

د پښتو ادبي ټولنو پيل په دوولسمې صدۍ کښې پيلېږي. شاه حسين هوتک، چې د ميرويس نيکه زوی او يو ښه باذوقه شاعر و، په کندهار کښې د پښتو ادب د آبيارۍ نال ږدي.

"هغه وخت په کندهار کښې د هوتکو پښتنو باچاهي د حاجي ميرويس خان خلجي له زامنو نه شاه حسين ته رسېدلې وه. (۱۱۱۴ھ) نه (۱۱۵۲ھ) پخپله هم د پښتو ژبې شاعر او د ذوق خاوند ؤ. د پښتو ژبې او ادب خدمت کولو مينه ورسره وه. د دۀ شاهي مانۍ د نارنج په نامه يادېدله چې په زوړ کندهار کښې وه. دۀ پخپل دربار کښې دغسې يوه ادبي جرګه جوړه کړې وه، چې د پښتو ثقافتي ليکوالو دغه جرګه "د ادبي دربار " په نامه ياده کړې ده. دغه ادبي دربار به په هفته کښې يو ځل د باچا مانۍ په کتب خانه کښې جوړېدو. د دې ادبي غونډې صدارت به پخپله باچا کولو". (1)

وروسته له دې په هم دغه کندهار کښې سردار مهردل خان مشرقي يوه ادبي جرګه په خپل کور کښې جوړه کړه، دا ادبي جرګه د شاه حسين د جرګې غوندې په سرکاري سطح نۀ وه جوړه شوې. د هغه وخت ځيني ليکوالان به د سردار مهردل خان په کور کښې راجمع کېدل او خپل اشعار به يې سره اورول.

"دا جرګه د ديارلسمې صدۍ هجري په شروع کښې سردارمهردل خان مشرقي (۱۲۱۴ھ) نه (۱۲۸۱ھ) جوړه کړې وه. دې جرګې ته سرکاري مرسته حاصله نۀ وه. ولې د کندهار ځيني نوموړي شاعران لکه مرزاخان بارکزی، صديق اخوندزاده او داسې نور به د سردار مهردل خان مشرقي په کور کښې راجمع کېدل او شعرونه به يې اورول او دغسې ادبي محفلونه به يې جوړول". (2)

هم دا ادبي ټولنې وې چې د پښتو ادب د آبيارۍ بنسټ يې کښېښوو. وروسته له دغو ټولنو د نورو ټولنو په هکله معلومات نشته. د انګرېز ښکېلاک پر مهال په شلمه پېړۍ کښې د خدائي خدمتګار تحريک له لارې په کال ۱۹۲۱ کښې د خان عبدالغفار خان (باچاخان) په هڅو د يوه ادبي تحريک (انجمن اصلاح الافاغنه) بنسټ کښېښوول شو. دې انجمن په شلمه پېړۍ کښې د نورو ادبي ټولنو د جوړولو ته لار پرانيستله. له دې را وروسته په لره او بره پښتونخوا کښې بې شمېره ټولنې په وجود کښې راغلې چې د هغو له لارې پښتو ادب، تاريخ، کلتور او جغرافيه په معياري توګه و نړۍ ته وړاندې کړل شول.

د دنګ کوږک غره په لمن کښې د پراته ښار چمن د ادبي ټولنو تاريخ هم ډېر زوړ دی، کابو اويا کاله مخکې د چمن ادب ته يو پلېټ فارم ورکول شوی دی او د چمن ادبي کهول له دغه پلېټ فارم څخه خپلې ادبي هلې ځلې پيل کړې دي. د چمن ادبي کهول ته دا اعزاز په برخه دی، چې د چمن لومړۍ ادبي ټولنه د سُهېلې پښتونخوا له اولنيو ادبي ټولنو څخه ده.

**بزمِ ادب چمن:**

په چمن ښار کښې لومړی ادبي ټولنه په ۱۹۵۲ کښې د بزمِ ادب په نامه د هغه وخت د شاعرانو سجاداحمد جعفري، طفیل احمد سرور، سلطان محمد دراني، محمدامین صبا او میا محمد په کوششونو جوړه شوه. دغه شاعران چي د چمن لومړی ادبي ټولنه یې جوړه کړې ده، د هغه وخت د پوهنځي (کالج) لیکچراران او پروفېسران ول.

د بزم ادب په لومړیو ټاکنو کښې د ډېرې لوړې پایې شاعر او لیکوال سجاداحمد جعفري د صدر، د چمن دروغاني کارېز اوسېدونکی او د دولتي پوهنځي (کالج) استاد سلطان محمد درانی د جنرل سکرټري او ډېر ښه لیکوال و شاعر میا محمد د جوائینټ سکرټري پر عهده وټاکل شو. محمدامین، چې پر اردو شاعري او لیکوالي یې عبور درلود، تنویراحمد ساغر، چي یو روښن فکر او مترقي شاعر و، اسرارالدین اسرار، چي د پښتو ژبي او اردو ژبي شاعر او لیکوال و او ممتاز نعیم آرزو، چي یو ځوان شاعر و، د بزم ادب د لومړۍ کابینې غړي وټاکل شول. د دغه کابینې سره د پښتو، عربي، اردو او فارسي ژبو لیکوال علامه غلام محمد شاه ندوي، الحاج عبدالعزیز مسافر او سید علاءالدین مجروح (سید علاءالدین الهامي) هم ملګري ول. د بزم ادب دغه ټولني ګڼ شمېر مشاعرې کړي دي. ښاغلی ډاکټر عبدالرؤف رفیقي په دې هکله لیکي:

> "بزم ادب کے زیر اہتمام کئی مشاعرے ہوئے ہیں جن کی تعداد کا بے حد کوششوں کے باوجود اندازہ نہ ہو سکا۔ بقول محمد امین صبا کہ ہر مشاعرے میں بیس بائیس شعراء شرکت فرماتے۔ چونکہ بزم ادب کا کوئی مخصوص دفتر یا ٹھکانہ نہ تھا اس لئے ہر مشاعرے کے اختتام پر یہ اعلان کیاجاتا کہ اگلامشاعرہ آئندہ فلاں تاریخ کو فلاں صاحب کے دولت کدے پر منعقد ہو گا" (3)

**ژباړه:** د بزم ادب تر سیوري لاندي ګڼ شمېر مشاعرې شوي دي، چي د ډېرو کوششونو باوجود یې د شمېر اندازه و نۀ شوه. د محمدامین صبا په قول، چي په هره مشاعره کي به شل یا دوویشت شاعرانو ګډون کوی. دا چي د بزم ادب یو خاص ناست ځای یا دوتر نۀ و، نو د هري مشاعرې د ختمېدو پر مهال به دا اعلان کېدی، چي راروانه مشاعره به پرفلانی نېټه د فلاني صاحب پر ځای وي.

ښاغلی امیر زمان مشکور وایي:

> "په ۱۹۷۲ کال کښې د چمن پر مال روډ په بلدیه هوټل کښې د بزم ادب له دریځه یوه مشاعره ترسره شوه، په یاده غونډه کښې تر پینځلسو شاعرانو او مینه والو ګډون درلود. ویاند ئې سلطان محمد درانی و، ګډونوال یې سید غلام محمد شاه ندوي، محمدامین صبا (د ډاک خانې ملازم)، اسرارالدین اسرار، عبدالجبار (د ډاک خانې ملازم) او ... ول". (۴)

په ۱۹۸۰ کښې پروفېسر صاحبزاده حمیدالله د چمن د دولتي پوهنځي (انټر کالج چمن) مشر وټاکل شو، د دۀ د راتلو سره د چمن ادب مخ پر وده روان شو، په روانو ادبي هلو ځلو کښې تېزوالی راغلی او د هغه مهال چمن مېشتو ادیبانو د پخوا په پرتله نور همت شروع کړی.

د چمن د بزم ادب مشاعرې به د چمن په دولتي ودانۍ یا انفارمېشن سینټر، ټاون هال، ګورنمنټ هائي سکول، رېلوې، کسټم هاوس او ... دولتي ځایونو کښې کېدلې .د بزم ادب دغه مشاعرو ته د نورو سیمو شاعران او لیکوالان هم راتلل.

ښاغلی ډاکټر عبدالرؤف رفیقي لیکي:

"بزم ادب کے مشاعروں میں اردو کے علاوہ پشتو مشاعرے بھی منعقد ہوتے تھے۔ جن میں باہر سے پشتو کے بعض شعراء جن میں سعید گوہر، عابد شاہ عابد اور سید محمد رسول فریادی وغیرہ بھی آتے". (۵)

**ژباړه**: د بزم ادب په مشاعرو کښې د اردو په څنګ کښې پښتو مشاعرې هم جوړېدلې، چې هغو ته له (چمن) څخه دباندي د پښتو ژبي ځیني شاعران، لکه: سعید ګوهر، عابد شاه عابد او سید محمدرسول فریادي هم راتلل.

دې ټولنې په ۱۹۸۵ کښې د نوموړي شاعر قاضي ملا عبدالسلام اڅکزي پر دیارلسم تلین باندي یو لوی سېمینار جوړ کړی و، چې ګڼ شمېر شاعرانو او لیکوالانو ګډون پکښې کړی و. دغه پوهنغونډه (سېمینار) د چمن په ښاروالۍ (بلدیه) کښې وشوه، چې عبدالرؤف رفیقي، سیال کاکړ، سلطان محمد دراني، عبدالکریم بریالي، ابوالخیر ځلاند، صاحبزاده حمیدالله، مقدس خان معصوم، سلطان محمد صابر، نعمت الله دراني او ... لیکوالانو خپلې مقالې پکښې وړاندي کړې او په دویم پړاو کښې ئې یوه شرنګېدلې مشاعره هم وشوه، چې سید محمدرسول فریادي، عبدالکریم بریالي، عبدالباري اسیر، عصمت الله زهیر، ناظر صادق او ... شاعرانو خپل شعرونه، غزلې او نظمونه پکښې وویل.

یادي ادبي ټولني یو کتاب (د کوړک ستوری) په نامه چاپ کړی دی، چې د ۱۹۸۵ کال د بزمِ ادب له خوا د قاضي ملا عبدالسلام اڅکزي په باب جوړ شوي سېمینار مقالې، شعرونه او نظمونه پکښې خوندي شوي دي. د کوړک ستوری، چې پر ۲۵۵ مخونو باندي مشتمل دی او د ښاغلي عبدالرؤف رفیقي په زیار راټول سوی او چاپ سوی دی، د چمن د ادبي ټولنو له خوا لومړنی چاپ سوی کتاب دی. د دغه کتاب په چاپولو کښې د ځواني مرګ نعمت الله دراني هڅې هم د یادولو وړ دي.

دغه ټولنه تر ۱۹۸۷ وروسته د سکوت ښکار شوې ده. د هغه لویه وجه دا وه، چې صاحبزاده حمیدالله له چمن څخه ولاړی، نعمت الله درانی او عبدالرؤف رفیقي د پوهنتون خوا ته ولاړل او د کالج (پوهنځي) نور استاذان هم د سرکار له خوا نورو ځایو ته ولېږل شول.

د بزم ادب ټاکني يواځې دوه واره شوي دي، چې د اول ځل کابينې تر ټاکلو څو کاله وروسته د ټولنې صدر سجاداحمد جعفري په خدايي مرګ مړ شو، بيا د بزم ادب جوائينټ سکرټري ميا محمد د خدای په کار شو. تر دې دوو پېښو وروسته د دويم ځل دپاره ټاکني وشوې، چې د چمن سلطان محمد درانی ئې صدر وټاکل شو او تر پايه د صدارت پر عهده پاته شو.

د دې ټولنې د ځيني غړو نومونه بايد ياد شي؛ ولې چې دغه شاعران به د هري مشاعرې او سېمينار برخه وال ول، لکه: دانش، سيار صديقي سيار، باقرحسين نعيم، دادمحمد کاکړ بيدل، محمد اقبال اقبال، ملک صبح صادق انجم، عبدالقيوم قمر، عبدالله وارثي، محمدشريف شريف، محمديار يار، احمدالدين احمد، تاج محمد سحر او طفيل احمد سرور.

د بزم ادب تر لس کلني خاموشۍ وروسته په ۱۹۹۷ کښې د بزم ادب غړو اروانښاد نعمت الله دراني د عبدالرؤف رفيقي او ځيني نورو ملګرو په مرسته د پښتو ادبي ټولنې په نامه نوې ادبي ټولنه جوړه کړه او بزم ادب ادبي ټولنه له منځه ولاړه.

**پښتو ادبي ټولنه چمن:**

پښتو ادبي ټولنه ته د چمن د ادبي بهير د لومړنۍ پښتو ټولنې اعزاز حاصل دی. دغه ټولنه په ۲۷ ستمبر ۱۹۹۷ کښې د ښاغلي نعمت الله دراني، ډاکټر عبدالرؤف رفيقي، رحمت الله رحمت او ... په زيار جوړه شوه او په لومړي انتخاب کښې ئې نعمت الله درانی صدر، محمد نبي اميد جنرل سکرټري او سلطان محمد قدردان پانګوال ټاکل شوي دي، له دې لومړۍ کابينې څخه سوګند په ۱۴ ډسمبر ۱۹۹۷ کښې د ښاروالۍ په تالار کښې عبدالرؤف رفيقي اخيستی دی، چې دلته د ټولنې لومړۍ ادبي مشاعره هم کېدله. د دويم ځل دپاره ټاکني ئې په ۱۸ اکتوبر ۱۹۹۸ کښې د ټولنې په دفتر کښې وشوې، چې د دويم ځل دپاره بيا نعمت الله درانی صدر، محمد نبي اميد جنرل سکرټري، محمد نبي خادم مرستيال صدر، رحمت الله رحمت او عبدالرازق حقيار باندې مشتمله کابينه وټاکل شوه، له دې کابينې څخه سوګند روح الله ساقيار واخيست. يادې ټولنې د خپلې ټولنې انتخابات څو ځله کړي دي، چې په هغه کښې په ۴ نومبر ۲۰۰۰ کښې ډاکټر عبدالرؤف رفيقي د صدر او اخترمحمد ميراني د جنرل سکرټري او په ۱۶ مارچ ۲۰۰۳ کښې ډاکټر عبدالرؤف رفيقي د صدر او رحمت الله رحمت د جنرل سکرټري په حيث ټاکل شوي دي.

پښتو ادبي ټولنې ګڼ شمېر مشاعرې، سېمينارونه، تنقيدي نشستونه او د کتابونو مخ کتني کړي دي. رحمت الله رحمت ئې په هکله ليکي:

"پښتو ادبي ټولنې چمن په خپل ټول وخت کې اونيزې، مياشتنۍ، پسرلنۍ مشاعرې او سمينارونه وکړل او د ځينو هغه ليکوالانو په وياړ يې هم مشاعرې

وکړې، څوک چې چمن ته راغلل. د دغه کتابونو مخکتني یې وکړلې تاتمول، ګلدره، د صلیب په دایرو کې مات وزري زانې ژاړي او پښتني انځور". (6)

دې ټولنې دوه کتابونه چاپ کړي دي، چې دواړه شعري ټولګې دي.

نیازمحمد کاکړ لیکي:

"دې ټولنې د پښتو ادب او پښتو ژبې ډېر زیات خدمت کړی دی. د ټولنې له خوا دوه کتابونه چاپ دي، چې نومونه یې دا ډول دي (۱) د سنګره تر ګودره شعري ټولګه (۲) امید په نامه دی، چې د دواړو لیکوال انجنیر محمد نبي امید دی". (7)

دلته له ښاغلي نیازمحمد کاکړ څخه څه تېروتني شوي دي، هغه مهال چې ښاغلي کاکړ خپله مقاله لیکل د پښتو ادبي ټولنې له لوري یواځې د محمد نبي امید دویمه شعري ټولګه (د خیالونو غلامي) چاپ شوې وه او په ۲۰۲۱ کښې ئې د سلطان محمد قدردان دویمه شعري ټولګه (بالِ ابابیل) هم خپره کړې ده. د انجینر محمدنبي امید لومړی شعري ټولګه (له سنګره تر ګودره) پښتو ادبي ټولنې نهٔ، بلکې سلام بابا ادبي ټولنې خپره کړې ده او د رحمت الله رحمت د (امید) په نامه ناول، که څه هم لیکوال یې د ټولنې صدر دی، خو د ټولنې له اړخه نهٔ دی چاپ شوی.

پښتو ادبي ټولنه لس غړی لري، چې دا وخت ځیني پکښې غیرفعال دي. ټولنه خپل خرڅ خپله کوي، خپل منشور لري، تر اوسه رجسټرډ نه ده. د ټولنې ټاکنې له ډېره وخته نه دي شوي اوسنی صدر ئې رحمت الله رحمت، جنرل سکرټري ئې رحم الدین رحماني او نائب صدر ئې محمد نبي امید دی. یاد ادیبان او لیکوالان د پښتو ادب دپاره د پښتو ادبي ټولنې چمن تر سیوري لاندي رغنده رول لوبوي.

**ازاد لیکوال ادبي ټولنه چمن**:

آزاد لیکوال ادبي ټولنه پر ۲۲ جولائي ۲۰۰۲ د نابینا شاعر شفیق العالم معذوریار، حاجي اخترمحمد میراني او عبدالرازق حقیار په زیار رامنځته شوه. په ۲۲ جولائي ۲۰۰۲ کښې د چمن ښار په یوه شخصي ښوونځي کښې د آزاد لیکوال لومړی ټاکني وشوې، چې په اتفاق سره شفیق العالم معذوریار د صدر، عبدالرازق حقیار د جنرل سکرټري او نوراحمد فطرت د پانګوال (خزانچي) په توګه وټاکل شول. د دغو درو ښاغلو سره نور غړي هم په کابینه کښې واخیستل شول. یادې کابینې د آزاد لیکوال له خوا ډېري مشاعرې، سېمینارونه، ادبي بانډارونه او ادبي تنقیدي نشستونه وکړل. دویم ځل ټاکنې ئې یو کال وروسته په ۱۲ مئي ۲۰۰۳ کښې ترسره شوې دي، چې پکښې نوې کابینه ټاکل شوې ده. د دویم ځل دپاره نابینا شاعر شفیق العالم معذوریار صدر، عبدالرازق حقیار جنرل سکرټري، حاجي اخترمحمد میراني نائب صدر، محمدانور لالهاند پانګوال او سردارمحمد خوندي پرېس سکرټري ټاکل شوي دي. په کابینه کښې نور غړي هم د کابینې حصه وګرځول شول. له یادې کابینې څخه حلف

(لوړه) د هغه وخت د اولسوالۍ ناظم صلاح الدین اڅکزي واخیست. د حلف اخیستلو دپاره آزاد لیکوال باقاعده یو لویه حلف غونډه جوړه کړه، چې صدارت یې ملک عبدالخالق کړی دی، دروند مېلمه ئې صلاح الدین ناظم او د کوربه ذمه داریاني ئې ښاغلي شفیق العالم معذوریار ترسره کړې. په یاده غونډه کښې صلاح الدین اڅکزي، ملک عبدالخالق، شفیق العالم معذوریار او حاجي رحمت الله رحمت ویناوي کړي دي .د ویاندویي چاري ئې محمد انور لالهاند مخته یووړې.

دې ادبي ټولني درې سېمینارونه، درې لویې مشاعرې، ګڼ شمېر تنقیدي نشستونه کړي او د سکاسۀ په نامه ئې یو کتاب چاپ کړی دی.

په دې هکله ښاغلی عبدالرازق حقیار لیکي:

"د چمن تر لومړۍ ادبي ټولني (بزمِ ادب) وروسته ئې د سکاسۀ په نامه دویم کتاب، چي د ټولني د صدر نابینا شاعر ښاغلي شفیق العالم معذوریار شعري ټولګه ده، چاپ کړی. سکاسۀ ته د چمن د ادبي ټولنو له خوا په چاپ شوو کتابونو کښې د دویم کتاب اعزاز حاصل دی". (8)

دغه ادبي ټولنه تر څه مودې وروسته غیرفعاله شوې ده، خو غړو ئې د نورو ادبي ټولنو تر سیوري لاندي خپلي ادبي هلي ځلي رواني ساتلي دي او تر دا دمه فعاله او د زیاتو کتابونو مصنفین هم دي.

**احمدشاه ابدالي ادبي، کلتوري ټولنه چمن**:

احمدشاه ابدالي ادبي، کلتوري ټولنه د چمن یوه فعاله ادبي کلتوري ټولنه ده، چي څه موده ئې د احمدشاه ابدالي کتابتون تر نامه لاندي فعالیت کاوه، خو وروسته دا نوم په احمدشاه ابدالي ادبي، کلتوري ټولنه بدل سو .

دا ټولنه په ۲۵ اپرېل ۲۰۰۳ کښې دعادل اڅکزي، عبدالرازق حقیار، نوراحمد فطرت او ... په کوششونو جوړه شوه. په لومړي ځل ټولني بې له کابینې کار کوی، د ټولني ټولي فیصلې به درې کسانو (عادل اڅکزي، نوراحمد فطرت او عبدالرازق حقیار) په ګډه کولې. په ۲۰۰۵ کښې د ټولو ټولنو مشترکه الېکشن کمېټۍ د احمدشاه ابدالي ادبي، کلتوري ټولني الېکشن وکړی، په لومړي ځل د دې ټولني صدر نوراحمد فطرت او جنرل سکرټري عبدالرازق حقیار وټاکل شواو په کابینه کښې پینځۀ نور کسان واخیستل شول. دویم ځل په ۲۰۰۷ کښې نوراحمد فطرت صدر او محمد غوث همدرد جنرل سکرټري، درېیم ځل په ۲۰۰۸ کښې نوراحمد فطرت صدر او عبدالرازق حقیار جنرل سکرټري وټاکل شول. په ۲۰۱۰ کښې یو وار بیا نوراحمد فطرت د صدر او عبدالرازق حقیار د جنرل سکرټري، په ۲۰۱۱ کښې نوراحمد فطرت د صدر او عبدالرازق حقیار د جنرل سکرټري، په ۲۰۱۴

کښې عبدالرازق حقیار د صدر او شاعر عبدالعلیم غریبیار ملنګ د جنرل سکرټري په توګه غوره شول.
یادي ادبي ټولنې تر اوسه پورې ډېرې مشاعرې کړې دي، چې د پسرلي دوديزه مشاعره ئې د یادولو وړ ده ده، همدارنګه ئې ګڼ شمېر دوديز سېمینارونه کړي دي او له څو کلونو څخه هر کال پر یوویشت فروري د مورنیو ژبو د نړیوالي ورځې په مناسبت غونډه جوړوي. دې ټولنې تر دا مهاله نهه کتابونه چاپ کړي دي، چې نومونه ئې په دې ډول دي: د عبدالرازق حقیار درې شعري ټولګې (په اورونو کې را شنه یو، دا لمر یو څه لکه ته!، یادونه ګردابونه) او دوه نثري کتابونه (ښه خو دا چې د چا نوم پکې یادېږي، د اولنو خبري مالګې دي)، د عبدالعلیم غریبیار ملنګ درې شعري ټولګې (ته مې نه ولیدې، بې تا ژوند، د سکروټو درمند) او د نوراحمد فطرت لومړۍ شعري ټولګه (د ستورو هار).
نیاز محمد کاکړ د احمدشاه ابدالي ادبي، کلتوري ټولنې په اړه لیکي:

> "دغه ټولنه یوه چاپ شعري ټولګه هم لري (تهٔ مې و نهٔ لیدې) چې غریبیار ملنګ ئې لیکوال دی. منشور یې د پښتو ژبې خدمت دی، د سرکار له خوا هیڅ مرسته نهٔ ورسره کېږي او نهٔ دا ټولنه رجسټرډ ده". (9)

ښاغلي نیازمحمدکاکړ د ټولنې د مشاعرو او سېمینارونو ذکر نهٔ دی کړی. دغه ټولنه لس غړي لري، خو ځینې ئې دا وخت غیرفعاله دي. تر ۲۰۱۴ وروسته بیا د ټولنې انتخابات نهٔ دي شوي او دغه ټولنه د عبدالرازق حقیار، چې د ټولنې موجوده صدر دی، په مشرتوب کښې د ژبې او ادب دپاره زیار باسي.

**ټکور ادبي ټولنه چمن:**

ټکور ادبي ټولنه د چمن د پښتو ادب یوه فعاله ادبي ټولنه ده. دا ادبي ټولنه، چې اکثریت پر ملایانو مشتمله ده، په ۲ جون ۲۰۰۶ کښې د استقلال ادبي بهیر په نامه رامنځته شوه. لومړی صدر یې مولوي عبدالباري مدني او نائب صدر ئې مولوي عبدالرازق راشد وټاکل شول او په نورو فعالو غړو کښې ئې مولوي حاجي محمد اواب، مولوي حبیب الله جواد، مولوي مطیع الله زُلال او محمدولي مجاهد د یادولو وړ دي. دې ټولنې د اسقلال ادبي بهیر په نامه ډېر ادبي نشستونه ترسره کړي دي. بیا د څه وخت له پاره د استقلال ادبي بهیر فعالیت ودرېدی، څو چې په ۲۰۰۸ کښې د یادي ټولنې کارنده غړو حاجي محمد اواب، حبیب الله جواد او ... د استقلال ادبي بهیر نوم په ټکور ادبي ټولنه بدل کړ او یو ځل بیا ئې خپلې ادبي هلې ځلې پیل کړې. دا وار ئې حاجي محمد اواب د صدر او حبیب الله جواد د جنرل سکرټري په توګه غوره شول. د دې سره سره په کمېټۍ کښې څلور نور کسان هم واخیستل شول، خو وروسته د ټولنې د انتخاباتو طریقهٔ کار بدل شو. د صدر او جنرل سکرټري سره سره دا نوري عهدې هم ختم کړل شوې او د پینځو کسانو مشتمله یوه جرګګۍ جوړه شوه، چې دغه

جرګګۍ به د ټولنې ټول دار و مدار مخ پر وړاندې وړي. په دغه جرګګۍ کښې حاجي محمد اواب، حمیدالله مصباح، نظام الدین مدني، عبدالرازق راشد او مطیع الله زُلال غړیتوب لري.
دا ټولنه خپل منشور لري، تنظیم په خپل ذاتي خرڅ یا په ولسي مرسته چلوي، د سرکار سره رجسټړډ نه ده، تر اوسه پورې چاپي آثار نه لري.
دې ټولنې د چمن په پښتو ادب کښې ډېر فعاله رول لوبولی دی، ګڼ شمېر مشاعرې یې کړې دي، چې پکښې د افغانستان، پښتونخوا او نورو سیمو ادیبانو لیکوالانو برخه اخیستې ده، زیات سېمینارونه یې کړي دي.
نیازمحمد کاکړ لیکي:

"چاپ کتابونه نۀ لري البته څلور سېمینارونه یې کړي دي، چې هغه په دا توګه دي.
(۱) حسان بن ثابت په یاد کښې (۲) د ځواني مرګ شاعر عبدالمنان واصل تلین
(۳) د علامه عبدالشکور رشاد بابا د تلین په هکله (۴) د علامه عبدالحي حبیبي تلین". (10)

ټکور ادبي ټولنه خپل ادبي تنقیدي نشستونه هره جمعه او په میاشت کښې څلور ځله کوي، چې په هغه کښې د یو شاعر پر غزل یا نظم کره کتنه، لیکدود، شعرپوهنه او نثرپوهنه باندې نشستونه کېږي. په پای کښې مشاعره هم وي، چې پکښې ټول ګډونوال خپل خپل یا انتخاب شعرونه وړاندې کوي، دا غونډې خپل مهال سمبالګر لري، چې د وخت د وېش ترتیبات نیسي. د ادبي تنقیدي نشستونو لړۍ ئې تر دا دمه دوام لري، ټول غړي ئې فعال دي او په دفتر او کتابتون کښې هر وخت حاضر وي.

**پښتو ادبي تړون چمن**:

پښتو ادبي تړون د چمن ادبي بهیر یوه فعاله ادبي ټولنه ده، چې په ۱۸ سپیتمبر ۲۰۰۸ کښې جوړه شوې ده. لومړی صدر ئې عادل اڅکزی او نائب صدر ئې عبدالغفار غاور ټاکل شوی دی.
دا ټولنه هر کال دوه دیزه مشاعره کوي، چې د شملې تر ښکلي نامه لاندې وي او هر کال پر ۲۶ جنوري د وتلي شاعر قاضي ملا عبدالسلام اڅکزي د تلین ورځ لمانځي او په دې ورځ لوی علمي سېمینار کوي، دې ټولنې تر اوسه پورې دوې (شمله) مشاعرې کړې دي، چې د افغانستان و سُهېلي پښتونخوا وتلي لیکوالانو، شاعرانو او ادیبانو ګډون پکښې کړی دی او تر ۲۶ جنوري ۲۰۲۲ پورې ئې څوارلس علمي سېمینارونه د قاضي ملا عبدالسلام اڅکزي په یاد کښې کړي دي. همدارنګه ئې د وتلي شاعر و لیکوال سیال کاکړ او سید خیرمحمد عارف، عبدالرؤف رفیقي او شفیق العالم معذوریار، شېربهادر اڅکزي او رحمت الله رحمت، جلال امیرخېل او حاجي ولي محمد غبیزي اڅکزي په ویاړ

لوی علمي سېمینارونه کړي دي. یادي ټولني د ( شمله) مشاعرې پرته یوه خپلواکه عالمي مشاعره هم کړې ده، چي د ټولي پښتونخوا ادیبانو ګډون پکښي درلودی.

ښاغلی نیازمحمد کاکړ د پښتو ادبي ترون په تړاو لیکي:

"تر اوسه یې یوولس ۱۱ سیمیناره کړي دي، چي په دغو سیمینارو کښي ۸ سمیناره صرف پر ملا عبدالسلام اشېزي باندي دي". (11)

پښتو ادبي ترون تر دې مهاله دوه کتابه چاپ کړي دي، یو (د چمن ګلونه)، چي د عادل اڅکزي زیار او د چمن د شاعرانو تذکره ده او بل د نظرمحمد درمان لومړی شعري ټولګه (شبنمي څاڅکي) ده.

د دې ټولني انتخابات څلور واره ترسره شوي دي، چي د دویم واري کابینې صدر عبدالغفار غاور او نائب صدر شېربهادر اڅکزی ټاکل شوی دی، د درېیم ځل د کابینې د صدر او د نائب صدر ذمه داریاني عادل اڅکزي او امیر زمان مشکور ترسره رسولي دي او د موجوده کابینې صدر نعمت الله پښتون او نائب صدر عبدالغفار غاور دی، چي د ټولني ذمه داریاني پرمخ وړي.

**سلام بابا پښتو ادبي ټولنه چمن:**

سلام بابا پښتو ادبي ټولنه د شلمي میلادي پېړۍ د مبارز شاعر قاضي ملا عبدالسلام اڅکزي پر نامه جوړه ده، دا ټولنه د چمن د ادبي بهیر یوه فعاله ټولنه ده. سلام بابا پښتو ادبي ټولنه په ... کښي جوړه شوه، چي د لومړي ځل دپاره یې محمد غوث همدرد صدر او محمد عیسیٰ غریب جنرل سکرټري وټاکل شو، سرپرست اعلیٰ ئې د ښار وتلی تاجر حاجي مجاهد نورزی دی او په کابینه کښي نور ملګري هم لري.

یاده ټولنه هر کال پر دویم دسمبر د آزادۍ د ستر مخکښ، سیاسي، ادبي او صحافتي مبارز خان شهید عبدالصمد خان اڅکزي تلین غونډه لمانځي. دغه غونډه د دې ټولني دودیزه غونډه ده، خو د دغي تلین غونډې ټولي مقالې تر اوسه لا ناچاپه پاته دي.

د سلام بابا ادبي ټولني له خوا تر اوسه څلور کتابونه چاپ شوي دي، چي نومونه ئې په دې ډول دي: د محمدعیسیٰ غریب لومړۍ شعري ټولګه (د کوړک ګلونه)، د انجنیر محمدنبي امید لومړۍ شعري ټولګه (له سنګره تر ګودره)، د نظرمحمد درمان دویمه شعري ټولګه (یوه بله غوټۍ ګل سوه) او د محمدعیسیٰ غریب په زیار راټولي شوي لیکني (د پښتون قامي ملي مشر خان شهید حاجي جیلاني اڅکزی او عدم تشدد "لومړۍ برخه").

دې ټولني زیاتي مشاعرې هم کړي دي، چي ریکارډ یې د ټولني سره نشته.

یاده ټولنه لس شاوخوا غړي لري، خو اکثره دا وخت غیرفعاله دي، د غړو په چنده یا د ولس په مرسته چلېږي، رجسترډ نه ده او خپل ادبي منشور نه لري.
ښاغلی نیاز محمد کاکړ ئې په اړه لیکي:

"د غزل شپه په نامه هر کال یوه مشاعره جوړوي، هر کال پر اووم ۷ فروري د مورنۍ ژبي ورځ لمانځي. د دغي ټولني د ملګرو په زیار د دې ټولني له خوا درې کتابونه چاپ دي چي په دې توګه دي (۱) د جیلاني خان اڅکزي شهید په ژوند، د کوړک ګلونه او د ستورو هار په نامه کتابونه یې چاپ کړي دي)". (12)

ښاغلي نیازمحمد کاکړ د نوراحمد فطرت لومړۍ شعري ټولګه (د ستورو هار) د سلام بابا ادبي ټولني په تله کي ور اچولې ده، خو یاده ټولګه دې ټولني نۀ، بلکي احمدشاه ابدالي ادبي، کلتوري ټولني چاپ کړې ده. ښاغلي نیازمحمد دا هم لیکلي دی، چي سلام بابا ادبي ټولنه پر اووه فروري د مورنیو ژبو نړیواله ورځ لمانځي، لومړی خو د مورنیو ژبو نړیواله ورځ یوویشت فروري ده او بل دا ورځ احمدشاه ابدالي ادبي، کلتوري ټولنه لمانځي، چي د هغو دودیزه غونډه هم ده.
د یادي ټولني له ډېره وخته ټاکني نۀ دي شوي. د نظرمحمد درمان صدر او محمد غوث همدرد جنرل سکرټري په مشري یاده ادبي ټولنه خپلي ادبي چاري پر مخ وړي.

**باچا خان بابا پښتو ادبي ټولنه چمن:**

دا د خان عبدالغفار خان (باچا خان) په نامه پښتو ادبي ټولنه ده، چي په ۱۷ سپیټمبر ۲۰۱۵ کښې د امجدخان ایډوکېټ په ناست ځای (افغانیه چیمبر) کښې جوړه شوه، چي لومړی صدر ئې نوراحمد فطرت او جنرل سکرټري ئې محمد عیسیٰ غریب وټاکل شو. په کابینه کښې د پینځۀ نورو کسانو انتخاب هم وشو. دا انتخابي غونډه د پښتو ادبي جرګې د غړو (حاجي رحمت الله رحمت، حاجي محمد اواب او عبدالغفار غاور) په نګراني کښې وشوه، له نوي انتخاب شوي کابینې څخه حلف ښاغلي حاجي محمد اواب واخیست.
دې ټولني د خان عبدالصمد خان اڅکزي (خان شهید) تلین، د نعمت الله دراني په یاد کښې سېمینار، د اروابناد اخترمحمد میراني په یاد کښې سېمینار، د مورنیو ژبو د نړیوالي ورځي په مناسبت ئې دوه کاله پرلپسې سېمینارونه او د امن مشاعرې تر نامه لاندي ئې دوه کاله پر ایالتي کچه مشاعرې کړي دي، چي له افغانستان، کوټې او ... سیمو څخه ګن شمېر شاعرانو او لیکوالانو ګډون پکښې کړی دی او همدا ډول ئې اته ستېډي سرکلان هم کړي، چي پکښې ډېرو د ادب مینه والو برخه اخیستې ده.
یادي ټولني یوشمېر شعري او نثري ټولګې هم چاپ کړي دي لکه: د ذوالقرنین باچا لومړۍ شعري ټولګه (په جنازه کي مي رقیب ولاړ دی)، د محمدعیسیٰ غریب دویمه شعري ټولګه (ستا د ښایست ګلونه ډېر دي)، د سلطان

محمد قدردان لومړۍ شعري ټولګه (د سکوت پرښتې) او د محمدعیسیٰ غریب په زیار د راټولو شوو لیکنو ټولګې (د پښتون قامي تحریک ملي مشر خان شهید حاجي جیلاني اڅکزی او عدم تشدد "دویمه برخه"، د شهیدانو کور "لومړۍ برخه"، قاضي ملا عبدالسلام بابا اڅکزی یو روڼ انده او مترقي عالم).د دې ادبي ټولنې بیا ټاکنې تر اوسه نهٔ دي شوي، نو هغه زړه کابینه پر خپل ځای برقراره او هم تر اوسه کار کوي.

**پښتانه مترقي لیکوال چمن**:

پښتانه مترقي لیکوال یوه نړیواله پښتو ادبي ټولنه ده، چې په ۲۰۱۵ کښې په پېښور ښار کښې په وجود کښې راغله او د پښتونخوا په ټولو اولسوالیو کښې څانګې لري. د دې ټولنې د چمن څانګه په ۲۰۱۸ کښې رامنځته شوه، چې د پښتانه مترقي لیکوال د مرکزي سکرټري ښاغلي فضل اشنا په مشري کښې ئې انتخابات وکړل او په لومړي ځل محمدعیسیٰ غریب صدر او نوراحمد فطرت جنرل سکرټري انتخاب شو، د دې سره پینځهٔ کسیزه کارډله هم وټاکل شوه.

د پښتانه مترقي لیکوال چمن څانګې تر دا دمه دوه لوی علمي سېمینارونه او دوې مشاعرې کړې دي. لومړی ئې په ۷ جنوري ۲۰۱۸ کښې (د ادب او سیاست ترمنځ اړیکې) تر عنوان لاندې سېمینار وکړی، چې پکښې ګڼ شمېر ادیبانو، شاعرانو او عامو وګړو ګډون وکړی. په یاد سېمینار کښې د ډاکټر لیاقت تابان، محمدنعیم آزاد، میرحسن خان اتل او عصمت الله زهیر ترڅنګ نورو لیکوالانو هم خپلې علمي مقالې ولوستلې. هم په دغه ورځ یوه لویه مشاعره وشوه، چې ګڼ شمېر شاعرانو خپل کلامونه پکښې واورول. په یاده غونډه کې له افغانستان څخه راغلو مېلمنو لیکوالانو او شاعرانو هم ګډون درلود. هم په دې ورځ د ښاغلي نوراحمد فطرت په کور کښې یوه فرشي مشاعره هم وشوه. په ۲۰۲۰ کښې ئې د ټولنې د ځواني مرګ غړي شاعر او لیکوال پروفېسر محمدابراهیم (ارمان لوڼي) په یاد کښې یو علمي او ادبي سېمینار جوړ کړ، په یاد سېمینار کښې د ځواني مرګ لیکوال ارمان لوڼي د ژوند، شاعري، لیکوالي او ... په باب ګټوري علمي او ادبي مقالې وویل شوې او وروسته ئې مشاعره وشوه، په دې غونډه کې د یوشمېر لیکوالانو او شاعرانو ترڅنګ په زیات تعداد عام ولس هم شرکت کړی و.

پښتانه مترقي لیکوال چمن څانګه تر دا مهاله چاپ آثار نه لري، د ټولنې تر دا ګړیه دوه ځله انتخابات شوي دي، چې یو په ۲۰۱۸ کښې او دویم وار په ۲۰۲۱ کښې د ټولنې انتخابات وشول. د دویم ځل دپاره د ټولنې صدر بیا محمدعیسیٰ غریب او جنرل سکرټري نوراحمد فطرت وټاکل شو، چې تر اوسه پورې همدغه کابینه کار کوي.

## حوالې

(1) کاکړ نیاز محمد، د سهېلي پښتونخوا د ادب په ترقۍ کښې د ادبي ټولنو کردار "د اېم فل مقاله، ناچاپه، مخ ۳۲
(2) همدغه، مخونه ۳۲ او ۳۳
(3) رفیقي عبدالرؤف، «بزم ادب چمن کبھی اور ابھی»، کوږک مېګزین لومړۍ ګڼه (۱۹۸۴) چمن، مخ ۷۰
(4) د مشکور امیر زمان سره مرکه د بزم ادب په اړه
(5) رفیقي عبدالرؤف، «بزم ادب چمن کبھی اور ابھی»، کوږک مېګزین لومړۍ ګڼه (۱۹۸۴) چمن، مخ ۷۱
(6) رحمت رحمت الله، امید «ناول»، ۲۰۱۰، چمن، مخ ۱۱۵
(7) کاکړ نیاز محمد، د سهېلي پښتونخوا د ادب په ترقۍ کښې د ادبي ټولنو کردار "د اېم فل مقاله" ناچاپه، مخ ۱۳۲
(8) د حقیار عبدالرازق یاداښت د آزاد لیکوال ادبي ټولني په اړه
(9) کاکړ نیاز محمد، د سهېلي پښتونخوا د ادب په ترقۍ کښې د ادبي ټولنو کردار "د اېم فل مقاله" ناچاپه، مخ ۱۳۱
(10) همدغه، مخ ۱۳۳
(11) همدغه، مخ ۱۲۸
(12) همدغه، مخ ۱۳۵